
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د مارچ لسمه | ۵۲۷مه ګڼه


## څېره

۴ مخ



## خاویر پرز دکوئیر

خاویر پرز دکوئیر د پیرو هېواد تبعه و. هغه د پیرو ډیپلومات، پیاوړی سفیر، حقوق پوه، د ملګرو ملتونو پنځم سرمنشي او د یو څه مودې لپاره د پیرو لومړی وزیر و. هغه تېره اونۍ د ۱۰۰ کلونو په عمر د پیرو په یوه روغتون کې د جراحۍ پر مهال ومړ.

## الکو: په هلمند کې د غنمو او اوربشو پر ۱۱ ډولونو څېړنې کېږي



د هلمند د کرنې ریاست ویلي چې د مسلکي او فني کارکوونکو له خوا یې د بولان په څېړنیز فارم کې د اوربشو او غنمو پر ۱۱ ډولونو چې پکې مورني، هستوي او تجربوي تخمونه شامل دي، څېړنې کېږي.

د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو ویلي، چې په دې څېړنه کې د اوربشو او غنمو ۱۳ ډولونه (ورایټۍ) چې څلور یې نړیوال او اووه نور یې ملي سیټونه دي، شامل دي تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.

الکو ویلي، د دغو څېړنو پایلې د کرنې له کارپوهانو، متخصصینو او بزګرو سره شریکېږي، څو په راتلونکي کې د اوربشو او غنمو د ښه او ډېر تولید په پار کوټلي ګامونه واخیستل شي. د دې تر څنګ، په دې څېړنیز فارم کې بزګرو، ځمکه‌والو، د کرنې پوهنځی او د کرنې انسټېټیوټ زده کړیالانو ته هم د کرکیلې په بېلابېلو برخو کې د عملي او نظري زده کړې زمینه برابره شوې ده.

# بې مخینې تحلیف؛

## په ارګ او سپیدار دواړو کې د لوړې مراسم ترسره شول





۳

### لوړې وشوې؛ خو لانجه حل شوه؟

۲ مخ

### د افغان سولې پر وړاندې ننګونې

۲ مخ

### د چین ښځو له کورونا ویروس سره د نیمې نړۍ په څېر مبارزه کړې ده

۳ مخ

## ولسمشر غني: د طالب زندانیانو له ازادولو سره به په هېواد کې د تاوتریخوالي کچه را ټیټه شي

ولسمشر غني ویلي چې د پنځو زرو طالب زندانیانو ازادول د ملت له امنیت او سولې پروسې سره تړاو لري، نو په دې اړه به نن فرمان صادر کړي.

ولسمشر د طالب بندیانو د ازادولو په تړاو د نرمښت تر څنګ ویلي، د سولې مشورتي لویې جرګې دا وښوده چې ملت سوله غواړي او د سولې لپاره یې د دولت د صلاحیت حدود وټاکل، نو د خلکو له غوښتنې سره سم به دغه پروسه پر مخ لاړه شي.

غني ویلي: «له زندان څخه د طالبانو خلاصول به د خلکو د امنیت او سولې پورې مرتبط وي.»

هغه زیاته کړې، دوی توافق ته رسېدلي چې د زندانیانو له ازادولو سره به په هېواد کې د تاوتریخوالي کچه را ټیټېږي.

ولسمشر دغه راز ویلي چې د پنځو زرو طالب زندانیانو د ازادولو په اړه فرمان او د سولې مذاکراتي پلاوی به نن اعلان کړي.

د نوموړي د معلوماتو له مخې، د بین الافغاني مذاکراتو لپاره پلاوی د سیاسي ګوندونو، دیني عالمانو، مدني ټولنو، ښځو، ځوانانو او د بېلابېلو قومونو خلکو او مشرانو سره تر مشورو وروسته نهایي شوی دی.

غني ویلي، که له طالبانو سره د سولې مذاکرات د داعش ډلې د فعالیتونو مانع نه شي، نو باید له طالبانو سره په مذاکراتو کې له دقت څخه کار واخیستل شي.

د غني په خبره، په راتلونکي کې د بهانو د له منځه وړلو په موخه باید پاکستان د سولې په پروسه کې اساسي رول ولري.

## افغان حکومت د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره خپل پلاوی ټاکلی دی



۵ مخ

## وزارت معارف: تمام مکاتب و مرکزهای تعلیمی در فراه و نیمروز تا اطلاع ثانوی رخصت می باشند




وزارت معارف افغانستان تمام مکتب‌های دولتی، خصوصی و دیگر مرکزهای تعلیمی در ولایت‌های فراه و نیمروز را به‌هدف جلوگیری از گسترش ویروس کورونا مسدود کرده‌است.

نوریه نزهت سخنگوی این وزارت به رسانه ها گفته است: «تا فعلاً ما فعالیت‌های مکتب‌ها در سه ولایت را به تعویق انداخته‌ایم، در ولایت هرات هرچند سال تعلیمی در سوم حمل آغاز می‌شود، ولی شماری از مکتب‌های خصوصی در زمستان فعالیت داشتند که با تهدید کورونا فعالیت آن‌ها متوقف شده‌است و بعد از جلسات متعدد تصمیم گرفته شد که مکتب‌های نیمروز و فراه را هم رخصت کنیم.»

به‌گفته خانم نزهت، تصمیم در مورد بازگشایی مکتب‌های فراه و نیمروز تا سوم ماه حمل عملی می‌شود و بعداً فیصلهٔ تازه صورت خواهد گرفت.

این درحالیست که فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه به روز شنبه از مصاب شدن سه تن دیگر به ویروس کورونا در هرات خبر داد. با این سه تن شمار مصاب شدگان کورونا در افغانستان به ۴ تن رسیده‌است.

ولایت‌های غربی هرات، فراه و نیمروز با ایران هم‌سرحد اند و به همین سبب مناطق تحت تهدید کورونا به‌شمار می‌آیند.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، دجمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

### لوړې وشوې؛ خو لانجه حل شوه؟

پـرون پـه ارگ او سـپېدار مانیـو کـې د لـوړې مراسـم روان وو. محمـد اشرف غنـي چـې د ټاکنـو کمېسـیون ولسـمشر اعـلان کـړی، د لـوړې مراسـم یـې تر سره کـړل، چـې د ځینو هېوادونـو سـفیران هـم ورغـلي وو. ډاکټـر عبداللـه چـې د ټاکنـو کمېسـیون پایلـې نـه منـي، هـم د ټـول شـموله حکومـت د مشر پـه توگـه یـې لـوړه وکـړه. دواړه لـوړې لـه هغه وروسـته هممهالـه وشـوې چـې د سـیاسي جوړجـاړي لپـاره هڅـې بـې پایلـې پـای تـه ورسـېدلې.

لـه دې سره اوس پوښـتنه دا ده چـې له ټاکنو را ولاړه شـوې لانجه حل شـوه او که لا پېچلې شوې ده؟

د لـوړې دواړه مراسـم پـرون د شرم او ننـگ یـوه ډرامـه وه، چـې هـر افغـان یـې پـه لیدلـو د شرم احسـاس کاوه. لـه بـده مرغـه دواړو لـورو پـه ټولـه سـپین سـترگۍ د خلکـو د خوښـې، ارادې او غوښـتنې خـلاف د خپـل واک او ځـواک لپـاره د افغانسـتان شرمولـو لوبـه روانـه کـړې ده. دوی دواړه د افغانسـتان د گټـو او ارزښـتونو پـر ځـای د خپلو شـخصي گټـو او واک لپـاره هلـې ځلـې کـوي چـې لـه همـدې امله لانجـه زیاتیـږي. اوس چـې دوی دواړو لـوړه کـړې، نـو ورسره نـه یـوازې لانجـه حـل شـوې نـه ده، بلکـې لا زیاتـه او پېچلـې شـوې ده. دا سـمه ده چـې د ډاکټـر عبدالله موقـف کمـزوری دی او د لـوړې مراسـمو تـه یـې بهرنیـان هـم نـه وو ورغـلي، خـو پـه کـور د ننـه هـم لویـه برخـه سیاسـتوال لـه اشرف غنـي سره سـتونزه لـري او د لـوړې مراسـمو تـه یـې نـه وو ورغـلي. ډاکټـر عبدالله بـه ونـه شي کولـی چـې پـه کابـل کـې عملي کارونه وکـړي، ځوک واک ته ورسـوي او عملي چارې پـه لاس کـې واخـلي، خـو پـه ځینـو ولایتونـو کـې یـې مخکـې لـه مخکـې دا کار کـړی او پـه ځینـو نورو کې هـم همـدا کار کولی شي. اوس کـه د دغـو کارونـو پر ضد گام اخیسـتل کېـږي او امنیتـي ځواکونـه کارول کېـږي، نـو لانجـه لا زیاتیـږي، خـو کـه یې پر ضد گام نه اخیسـتل کېږي، نـو دا هم یوه جدي سـتونزه ده او پـه یـو ډول د افغانسـتان پـه یـوه برخـه کـې د ډاکټـر عبداللـه واکمنـي منـل کېږي. راتلونکـې ورځـې بـه لـه لا زیاتـو لانجـو او ننگونـو ډکـې وي، چـې زیـان بـه یـې بیـا هم افغانسـتان او افغانانو ته اوړي. له دې سره به یـوه جـدي سـتونزه دا هـم وي چـې د سـولې پـه خـبرو کـې بـه هـم سـتونزې پیـدا کېږي. کـه دواړه لـوري خپـل ضـد تـه همداسـې دوام ورکـړي، مـوږ بـه لـه لا زیـات نـاوړه حالت سره مـخ شـو. د دې شـونتیا زیاتـه ده چـې ځیني ولایتونـه یـو ډول لـه مرکـزي حکومـت څخـه خپلسري پیـدا کـړي او یـا یـې هـم اړیکـه پرې شي، پـه دې سره به افغانسـتان له خورا جـدي گـواښ سره مـخ شي. لـه همـدې امله دواړه لـوري بایـد خپـل ضـد پرېـږدي او د افغانسـتان د سـلامتیا په اړه فکر وکړي. اوس پـکار ده چـې دواړه لوري یـو جوړجاړی وکړي، ځکـه چـې هسـې هـم بایـد د سـولې لپـاره د اوسـني حکومـت پـر ځـای یـو لنډمهالـی حکومـت جـوړ شي. همـدا دوی بـه حتمي له خپـل واک څخـه تېریـږي، نـو پـکار ده چـې د افغانسـتان لپاره سر له اوسـه مصلحت وکړي او پـه یـو ډول سره جـوړ شي.

# د افغان سولې پر وړاندې ننگونې

لیکنه: ذاکر سهار

**لومړۍ برخه:**

د افغانسـتان پـه مسـئله کـې د ښـکېلو ټولـو لـورو تـر منـځ پـه دې اجماع ده چـې نومـوړې شـخړه او مسـئله پوځـي حـل نـه لـري او یوازینـی حـل یـې د ښـکېلو خـواوو تـر منـځ سـیاسي جوړجـاړی دی. د سـیاسي جوړجـاړي د رامنـځ تـه کولـو لپـاره د ملـي یووالي حکومـت پـه راتـگ سره د افغـان حکومـت لـه لـوري هڅـې گړنـدۍ او جـدي شـوې. د ۲۰۱۵ ز کال د جولای میاشـتې پـه ۷مـه د لومـړي ځـل لپـاره د افغـان طالبانـو او افغـان حکومـت تـر منـځ رسـمي مذاکـرات د امریـکا، چیـن او پاکسـتان هېوادونـو د اسـتازو پـه شـتون کـې تـر سره شـول. ټاکل شـوې وه چـې د دې رسـمي خـبرو اتـرو دویمه ناسـته د همـدې میاشـتې پـه پـای کې تـر سره شي، ولـې د افغـان طالبانـو د رهـبر (مـلا محمـد عمـر) د مړینـې خبر او تـر لنـډ وخـت وروسـته، د نومـوړي د ځایناسـتي او د طالبانـو د مـشر مـلا اخـتر منصـور وژلـو نومـوړې پروسـه پـه بشـپړ ډول لـه منځـه یـوړه. افغـان حکومـت د سـولې د راوسـتو لپـاره خپلو هڅـو تـه ادامـه ورکـړه. لـه حزب اسـلامي سره د سـولې بریالـی تـړون، د کابـل بهیـر پـه دویـم کنفرانـس کـې لـه قیـد او شرط پرتـه لـه طالبانـو سره د مخامـخ خـبرو، د بندیانـو د ازادولـو، د اسـاسي قانـون تغیرولـو، لـه تـور لېسـت څخـه د طالـب مشرانـو د نومونو ایسـتلو او د نړیوالـو ځواکونـو د وتلـو پـه موضـوع بحـث کولـو تـه د افغـان حکومـت چمتـووالي او د اندونیزیـا او سـعودي عربسـتان کـې د علـماوو کنفرانسـونو دایرولـو طالبـان تـر ډېـره بریـده تـر فشـار لانـدې راوسـتي وو، څـو یوځـل بیـا لـه افغـان حکومت سره مخامـخ خـبرو تـه کېنـي. ولـې د سـولې پـه اړه د لویـې جرگـې راغوښـتل، د بین الافغانـي خـبرو لپـاره د یـوې میاشـتنۍ اوربنـد د شرط پـه توگـه اېښـودل او د حکومـت لـه لـوري د ۱۲ کسـیزه خبري پـلاوي ټـاکل چـې د ډېـرې شـنونکو پـه انـد یـو ټـول شـمول او لـه بـا نفوذه کسـانو څخـه نـه و، د افغـان حکومـت موقـف کمـزوری کـړ. طالبـان لـه فشـار څخـه ووتـل او افغـان سیاسـیونو تـه زمینـه مسـاعده شـوه چـې د سـولې پـه ځینـو نـورو بهیرونـو کـې گډون وکـړي او د حکومـت او افغـان طالبانـو د مخامخ خـبرو کولـو چانـس کمـزوری کـړي.

**پاکسـتان د افغانسـتان لـه سـولې څـه تـر لاسـه کـوي او څرنگـه سـوله غـواړي؟**

پـه افغانسـتان کـې لـه افغـان جهـاد څخـه ملاتـړ، د طالبانـو رامنـځ تـه کـول او د یوولسـم سـپټمبر لـه پېښـې وروسته لـه نړیوالـو او افغانسـتان سره دوه مخـي لوبـه د دې لپـاره وه چـې پاکسـتان پـه افغانسـتان کـې سـتراتېژیک عمـق تـر لاسـه کـړي. پـه دې کـې هېـڅ شـک نشـته چـې پاکسـتان د افغانسـتان پـه اړه خپلـه د سـتراتېژیک عمـق د تـر لاسـه کولـو پالیسـي نـه ده بدلـه کـړې. د دې لپـاره چـې پـوه شـو چـې پاکسـتان لـه افغـان سـولې څخـه څـه تـر لاسـه کول غـواړي، نـو بایـد پـه سـتراتېژیک عمـق بانـدې پـوه شـو.

سـتراتېژیک عمق پـه افغانسـتان کـې د یـو ملگـري، پښـتون او افراطي اسـلامي نظـام رامنـځ تـه کـول چـې لـه بېروني نفـوذ څخـه پـاک وي. د پورتـه تعریـف پـر هـرې برخـې بانـدې جـلا جـلا رڼا اچـوو:

ملگـری حکومـت: پاکسـتان کوښـښ کـوي چـې پـه افغانسـتان کـې داسـې یـو حکومـت رامنـځ تـه کـړي چـې د دوی پـه خوښـه او ملگـری وي، څـو ځینـې مهـم اهـداف لکـه د بهرنـي نفـوذ پـه ځانگـړي ډول د هندوسـتان، مخـه ونیسـي، د افغانسـتان د داخـلي او بهرنیـو پالیسـیو پـه ټاکلـو کـې مهـم رول ولوبـوي، د افغانسـتان لـه طبیعـي منابعـو اسـتخراج او گټـه واخـلي، د افغانسـتان لـه سـوداگرۍ او ترانزیـټ څخـه د ځـان پـه گټـه کار واخـلي، د ډیورنـډ، پښـتونسـتان او بلوچسـتان مسـئلو لـه منځـه وړل او داسـې نـور.

پښـتون- واکـی حکومـت : پاکسـتان کوښـښ کـوي چـې پـه افغانسـتان کـې داسـې یـو نظام وي چـې پښـتانه اسـلام پـال او سـخت دریځـي پکـې مهـم او پـراخ رول ولـري. د دې غوښـتنې دوه سـببه دي: لومړی دا چـې پـه تاریخـي لحـاظ د افغانسـتان نـور قومونـه لـه نورو گاونډیـو او مهمـو هېوادونـو سره نـږدې پاتـې شـوي، نـو پاکسـتان نـه غـواړي چـې نومـوړي قومونـه دې پـه افغانسـتان کـې مهـم رول ولوبـوي. دویـم دا چـې د افغانسـتان پښـتانه اسلام پـال او پـه پاکسـتان کـې لـه اسـلامي گوندونـو سره نـږدې اړیکـې لـري، نـو پاکسـتان پـه اسـانۍ سره کـولای شي چـې د مذهبـي گوندونـو لـه لارې او د پښـتو ژبـې د مشـترکاتو پـه سـبب لـه پښـتنو سره ښـې اړیکـې وسـاتي او نفـوذ پکـې خپـل کـړي. (د یادولـو وړ ده چـې لـه پښـتنو څخـه ملاتـړ د حسـن نیـت پـه خاطـر نـه دی؛ بلکـې غـواړي سـخت دریځـي اسـلام پـال پښـتانه پـر افغانسـتان واکمـن کـړي نـه قـوم پالي. ځکـه پاکسـتان د پښـتون قـوم پالـو سـخت مخالـف او خپلـه طالبانـو پـه زرگونـو پښـتانه مـشران وژلي دي.)

افراطـي نظـام: پاکسـتان غـواړي چـې پـه افغانسـتان کـې یـو تُنـدروه اسـلامي نظـام وي. د دې سـبب دا دی چـې تُنـدروه اسـلام پـال نشـنلېزم نظریـه یـوه مردونـه نظریـه گڼـي. پاکسـتان د یـو تُنـدروه اسـلامي نظـام پـه رامنـځ تـه کولـو سره غـواړي چـې د پښـتون نشـنلېزم او بلوچي نشـنلېزم د را ژوندي کېـدو مخـه ونیسـي او پـه افغانسـتان او پښـتون مېشـتو سـیمو کـې د جهـادي روحیـې پـه ژونـدي سـاتلو سره لـه جهـادي ډلـو د بهرنـۍ پالیسـي د موخو پـه لاسـته راوړلـو کـې گټـه واخـلي.

پـه سیاسـت کـې ژونـدي پاتـې کېـدل تـر بـل هرڅـه ډېـر ارزښـت لـري. پاکسـتان بـه کوښـښ وکـړي چـې پـه داسـې بڼـه طالبـان د افغانسـتان د راتلونکـي نظام برخـه وگرځـوي، چـې نومـوړې ډلـه د وخـت پـه تېرېـدو سره لـه منځـه لاړه نـه شي؛ ځکـه چـې د طالبانـو پـه څېـر د جنگـي ډلـو د ځـواک ټکـی جگـړه او وېـره خـورول وي. هـر کله چـې داسـې جنگـي ډلـې ډیموکراتیـک بهیـر تـه ننوځـي، نـو د دې شـونتیا ډېـره وي چـې لـه ماتـې سره مخامـخ او پـه تدریجـي ډول لـه منځـه ولاړ شي.

د دې لپـاره چـې طالبـان ځواکمـن پاتـې شي او لـه منځـه لاړ نـه شي، نـو پاکسـتان او طالبـان بـه کوښـښ وکـړي چـې پـه لومـړي گام کـې د یـو ځواکمن لـوري پـه توگـه د موقـت حکومـت پـه راس کـې طالبـان راشي او د نظـام نـوم او جوړښـت پـه خپلـه گټـه بـدل کـړي. د دوی دویـم پـلان بـه داسـې وي چـې پـه داسـې شـکل د ځـواک پـه وېـش کـې شریـک شي چـې د ډیورنـډ پـه فرضي کرښـه پراتـه ولایتونـه د طالبانـو تـر واک لانـدې راشي (دا حالـت ډېـر خطرنـاک دی او د هېـواد د تجزیـې سـبب کېـدلای شي). دا عمل طالبانـو تـه د دې زمینـه مسـاعدوي چـې لـه پاکسـتان سره نـږدې پاتـې شي او د تـړون د نـه عمـلي کېـدو پـه صـورت کـې پـه اسـانۍ سره د جگـړې کرښـو تـه وگرځـي.

طالبـان لـه ټاکنـو وېرېـږي. راتلونکـی نظـام کـه هـر ډول وي، د طالبانـو هڅـه بـه دا وي څـو هـر څومـره چـې کـولای شي ټاکنـې لـه ډېـر ځنـډ وروسـته تـر سره شي. لـه دې څخـه بـه د طالبانـو موخـه دا وي څـو دومـره وخـت پیـدا کـړي چـې لـه یـو لـوري د عامـو وگـړو لـه ذهنونـو څخـه د جگـړې دردونـه او د طالبانـو پـه خـلاف شـوی پروپاگنـد لـه منځـه لاړ شي او لـه بـل لـوري دومـره مـالي او ځـاني امکانـات برابـر کـړي چـې پـه ډیموکراتیـک بهیـر کـې د سـیالۍ وړ وگرځـي.

د افغانسـتان پـه راتلونکـي کـې او پـه ځانگـړي ډول د ډیورنـډ فرضي کرښـې څېرمـه پرتـو ولایتونـو کـې د یـوې پیـاوړې ډلـې پـه توگـه طالبـان کولای شي د پاکسـتان څـو مهمـې موخـې تضمیـن کـړي:

طالبـان د پاکسـتان لـه مهـم رقیـب هندوسـتان سره ښـې اړیکـې نـه لـري. د سـولې پـه روانـه پروسـه کـې طالبانو ډېـرو نـورو گاونډیـو هېوادونو ته سفرونه وکـړل، ولـې لـه هندوسـتان سره تـردې دمـه اړیکـې نـه لـري او نـه یـې نومـوړي هېـواد تـه سـفر کـړی دی. د طالبانو پـه واسـطه کـولای شي پـه افغانسـتان کـې د هندوسـتان د نفـوذ مخنیـوی وکـړي. طالبـان پـر قـوم پرسـتۍ (نشـنلېزم) هېـڅ بـاور نـه لـري. طالبـان د کـوزې پښـتونخوا لـه پښـتنو او پښـتون ملـت پالـه گوندونـو لکـه عوامـي ملـي پارټـي چـې سـیکولر فکـر لـري، ښـې اړیکـې نـه لـري. پاکسـتان فکـر کـوي چـې طالبـان بـه د پښـتونسـتان او بلوچسـتان مسـئله هیڅکلـه هـم راپورتـه نه کـړي او لـه طالبانـو څخـه د لـر او بـر پښـتنو تـر منـځ د یـو حایـل پـه توگـه کار واخـلي.

پاکسـتان غـواړي چـې افغانسـتان یـو بـې ثباتـه او لـه اقتصـادي، پوځـي او ټولنیـز پرمختـگ څخـه بـې برخـې یـو هېـواد واوسـي، د پاکسـتان د توکـو بـازار وي، پاکسـتان د افغانسـتان د طبیعـي منابعـو پـه اسـتخراج کـې پـراخ رول ولـري، پـه مهمـو داخـلي او خارجـي مسـایلو او پرېکـړو کـې پاکسـتان تاثیـر گـذار وي. د دې ټولـو موخـو د تـر لاسـه کولـو لپـاره طالبـان ښـه زمینـه سـازي کـولای شي. د سـولې او سـیاسي معاملـې پـه پایلـه کـې کـه چېرتـه طالبـان د افغانسـتان د نظـام مهمـه برخـه گرځـي، کېـدای شي چـې پـه افغانسـتان کـې امـن راشي، ولـې سـیاسي ثبـات، پوځـي او اقتصـادي پرمختـگ بـه سـتونزمن وي؛ ځکـه چـې طالبـان د حکومتولـۍ تجربـه نـه لـري او د خپـل ځـان د سـاتلو پـه موخـه بـه تـر ډېـره بریـده د پاکسـتان تـر تاثیـر لانـدې وي.

کلـه چـې د سـیاسي جوړجـاړي او حـل لـه لارې طالبـان د افغانسـتان د راتلونکـي نظـام یـوه پیـاوړې برخـه گرځـي، نـو دا حالـت نـورو وسـله والـو ډلـو، پـه ځانگـړي ډول هغـو تـه چـې د هندوسـتان پـه خـلاف پـه کشـمیر کـې جنگېـږي، دا جرئـت او پیغـام ورکـوي چـې وسـله واله مبـارزه یـې رنـگ راوړي او کـولای شي د وسـلې پـه زور خپلـې غوښـتنې پـه دولتونـو ومنـي. دا ډلـې کېـدای شي خپـل فعالیتونـه ډېـر د هندوسـتان پـر خـلاف ډېـر کـړي.

د امریکایـي ځواکونـو وتـل د پاکسـتان لانـدې موخـې تضمینـوي:

پـه افغانسـتان کـې د امریکایي ځواکونو حضور پاکسـتان د خپل اټومـي پروگرام د کنټـرول لپـاره یـو گـواښ گڼـي. د امریکایـي ځواکونـو پـه وتلـو سره غـواړي چـې نومـوړی گـواښ لـه منځـه یوسـي. دا سـیمه د امریکا لپـاره یو سـتراتېژیک اهمیـت لـري؛ ځکـه د ایـران، چیـن او روسـیې پـه څېـر مهـم هېوادونـه چـې لـه امریـکا سره سـیالۍ لـري، پراتـه دي. پاکسـتان پـه سـیمه کـې وخـت نـا وخـت د امریـکا ملگـری او د گټـو سـاتونکی پاتـې شـوی او لـه همـدې کبلـه یـې تـل د امریکا پوځـي او مـالي مرسـتې تـر لاسـه کـړې دي. پاکسـتان نـه غـواړي چـې افغانسـتان یـې پـه سـیمه کـې د امریـکا د یـو قـوي ملگري ځـای ونیسـي. پاکسـتان غـواړي چـې امریـکا ورتـه اړمنـه پاتـې شي او لـه اړیکـو څخـه یـې پـه خپلـه گټـه کار واخـلي.

پاکسـتان پوهېږي چې پـه افغانسـتان کـې د امریکایـي ځواکونـو حضـور کولای شي لـه یـو لـوري پـه پوځـي او اقتصـادي لحـاظ افغانسـتان پیـاوړی کـړي، نـو لـه بـل لـوري د نظـام پـه د ننـه کـې طالبـان کمـزوري او د وخـت پـه تېرېـدو سره کمـزوري کـړي. دا هغـه څـه دي چـې پاکسـتان یـې نه غـواړي. پـه دې کـې هېـڅ شـک نشـته چـې پاکسـتان د طالبانـو لـه مجبوریتـه او پـه دې ډلـه کـې لـه خپـل نفـوذ څخـه پـه گټـې اخیسـتو داسـې پټـې معاملـې او هوکـړه لیکونـه لـه طالبانـو سره رامنـځ تـه کـړي چـې پـه افغانسـتان کـې خپـل سـتراتېژیک عمـق پالیسـي تطبیـق کـړي. بلـه مهمـه خبره دا ده چـې پاکسـتان کېدای شي پـه افغان سـوله کـې د مرسـتې کولـو پـه بـدل کـې لـه امریـکا څخـه هـم ژمنـې تـر لاسـه کـړې وي. پاکسـتان چـې لـه ډېر بـد اقتصـادي حالـت او پـه سـیمه کـې نـږدې یـوازې پاتـې شـوی هېـواد دی، پـه افغـان سـوله کـې لـه امریـکا سره پـه مرسـته کولـو کـې لـه یـو لـوري لـه امریکا څخـه مرسـتې تر لاسـه کـړې او لـه بـل لـوري لـه عربـي نـړۍ څخـه پـه دې بهانـه چـې گواکـې یـوه سـني ډلـه (طالبـان) د افغانسـتان پـه راتلونکـي کـې ځـای پر ځـای کـوي او عمـده رول ورکـوي، مرسـتې تـر لاسـه کـړي.

**دوام لري...**



# د چین ښځو له کورونا ویروس سره د نیمې نړۍ په څېر مبارزه کړې ده

لیکنه: هیله
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

د مارچ اتمه د ښځو له نړیوالې ورځې سره برابره ده، خو سږ کال دغه ورځ په چین کې د ښځینه طبي کارکوونکو لپاره د نورو کلونو په نسبت ځانګړې ارزښت لري. د ښځو چارو په اړه د نړیوالې ټولنې مشرې مېرمن بیوس په همدې ورځ وویل، د چین ښځینه طبي کارکوونکي له ناول کورونا ویروس سره د مقابلې په سنګرونو کې دي. د دوی د قربانۍ او فداکارۍ روحیې ډېرې د ستاینې وړ دي. د دغو ښځینه طبي کارکوونکو پر مخونو د ماسکونو او طبي عینکو د نښو نښانو عکسونه پر نړیوالو ویب پاڼو خپاره شول او خلکو ډېرې ستایلې دي. مېرمن بیوس وویل، د چین دغه ښځینه طبي کارکوونکې له خطرونو نه دي وېربدلې او په دغه مقابله کې یې په ډېره زړورتیا مهم رول لوبولی دی.

د ناول کورونا ویروس ساري ناروغۍ خپرېدا د هر هېواد او هر چا پر وړاندې ستره ننګونه ده. د چین ښځې په دغه خطرناکه شېبه کې له ویروس سره د مقابلې لومړي محاذ ته رسېدلې دي. پروا نشته چې د طبي درملنې، علمي څېړنې، د پروژې جوړونې او یا د تولید عرضې او لوژیستیکي ضمانت، د مقابلې په بېلابېلو برخو کې ښځې برخمنې دي.

اړوندې شمېرې ښیي چې په هوبي ولایت کې د یادې ناروغۍ د درملنې په برخه کې له طبي کارکوونکو څخه دوه پر درېیمه برخه ښځینه دي. د هوه شن شان په نوم د لنډمهالي روغتون جوړونې په بهیر کې د ښځینه کارکوونکو شمېر د نارینه وو په شان و. په همدغه ولایت کې د فعالو خبریالانو په عمومي شمېر کې د ښځو اندول له ۳۰ سلنې زیات دی.

ښځې د نارینه وو په نسبت هېڅ کمزورتیا نه لري. دوی په خندا او موسکا سره موږ ته ویلي چې د هېواد لپاره په خدمتونو کې جنسیتي توپیرونه نشته.

د چین ښځې په اسیایي هنر او کلتور کې ځانګړې نمونه دي، دوی پر ځان باور لري. دا د چین ولسي جمهوریت د جوړېدو له ۷۰ کلونو راهیسې د جنسي برابرۍ تګلارو د تطبیق نتیجه ده. چین په ۱۹۵۴ ز کال کې د جنسي برابرۍ او د مساوي کار په مقابل کې د نارینه او ښځینه مساوي معاش مقررات په اساسي قانون کې ولیکل چې د جاپان په نسبت ۳۱ کاله مخکې دي.

د جنسي برابرۍ په اړه نظر د نوي چین د ودې او پرمختګ په بهیر کې ساتل شوی او د وخت په تېرېدو سره یې ډېرې لاسته راوړنې لرلې دي. نن مو ولیدل چې د چین ښځو له ویروس سره د مقابلې په محاذ کې په خپلو مسلکونو سره هېواد ته ستر خدمتونه تر سره کړي دي.

یوه ستره مهمه بېلګه یې دا ده: ۷۳ کلنه مېرمن لي لن جوان د ساري ناروغۍ یوه کارپوه ده او د چین د انجنیرۍ اکاډمۍ غړې ده. هغې د ناول کورونا ویروس ساري ناروغۍ تر خپرېدو وروسته، لومړۍ د ووهان ښار د خلکو د تګ راتګ ترلو وړاندیز وکړ او د دې ناروغۍ د لا خپرېدو په مخنیوي کې یې مهم رول ولوباوه.

د چین او روغتیا نړیوال سازمان د کارپوهانو ګډ څېړنیز ګروپ څو ورځې مخکې د یو راپور په خپرولو سره وویل، د چین د اغېزمنو تدبیرونو په رڼا کې د یو لک نورو ناروغانو د زیاتېدو شونتیا له منځه وړل شوې ده.

اوس دغه ۷۳ کلنه سپین سرې لا هم له ناول کورونا ویروس سره په مقابله بوخته ده او هره ورځ یوازې درې- څلور ساعته ارام خوب کوي. د دې د ځان ساتنې په طبي جامو باندې داسې لیکل شوي: ((وو هان جیا یو!)) یانې ووهانه قوي اوسه! د دې روحیه ډېره د احترام وړ ده.

بل مثال یې دا دی چې د ګان ژو یي په نوم مېرمن خپل کارځای ته د ستنېدو لپاره پر بایسکل له خپل ټاټوبي څخه ووهان ته لاړه. ۲۴ کلنه ګان ژو یي د ووهان د جیانګ شیا ناحیې د یو روغتون په لابراتوار خونه کې کار کوي. د روان کال د جنورۍ په ۲۳مه هغه د پسرلني اختر رخصتۍ لپاره خپل ټاټوبي جنګ جو ښار ته تللې وه، خو د ناول کورونا ویروس ساري ناروغۍ د خپرېدو له امله د ووهان او جینګ جو په ګډون، د هوبي ولایت د ښارونو د خلکو تګ راتګ وتړل شول. جینګ جو ښار له ووهان څخه درې سوه کیلومتره واټن لري، هلته ټول عمومي سړک وتړل شول او د اورګاډي تګ راتګ هم ځنډول شوی و. ګان ژو یي پرېکړه وکړه چې پر بایسکل کار ته ستنه شي. هغه د جنورۍ په ۳۱مه وخوځېدله او د سفر په بهیر کې یې ډېرې ستونزې وزغملې او لرې کړې. څرنګه چې هوا سړه وه او ترانسپورټي شرایط ښه نه وو، د نېکمرغۍ وړ خبر دا و چې له هغې سره په لاره کې پولیسو هم مرسته کړې وه. تر څلورو ورځو وروسته هغه د فبرورۍ په ۳مه خپل کارځای ته ورسېدله او د دې د کورنۍ د غړو اندېښنه هم ارامه او لرې شوه.

مېرمن لي لن جوان او مېرمن ګان ژو یي عادي کسان دي، خو د دوی اراده ټینګه ده او عملونه یې عادي نه دي. د ډېرو عادي کسانو د ناعادي کړنو له امله له دغه ویروس سره په مقابله کې د بریالیتوب د ګټلو نښه لا څرګنده شوې ده.

ملګرو ملتونو د روان کال د ښځو د نړیوالې ورځې لپاره دا عنوان ټاکلی چې ((مساوي نسل: د ښځو حقوق عملي کېږي.)) د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش دا ویلي چې جنسي برابري دا مانا لري چې په ټیټ نظر کتل شوې ښځې به ولیدل شي او د دوی لاسته راوړنې به وستایل شي.

د هر هېواد لپاره د جنسي برابرۍ عمل کول یو اوږد بهیر دی، خو دا یو واقعیت دی چې په ټولنیزو کارونو کې د ښځو برخې ستر اهمیت لري. په چین کې له کورونا ویروس سره په مقابله کې د ښځو دغسې سترې پیاوړې کړنې دا ښیي چې دوی د خپل ارزښت د عملي کولو، د کور او هېواد د ساتنې لپاره پر ځان پوره باور لري. له دې څخه په چین کې د جنسي برابرۍ تګلارې د تطبیق بریالیتوب پوره ښکارېږي.

# بې مخینې تحلیف؛

## په ارګ او سپېدار دواړو کې د لوړې مراسم ترسره شول



په سختو امنیتي تدابیرو کې په کابل کې د لوړې دوه مراسم تر سره شول. ولسمشر غني په ارګ کې، خو اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا په سپېدار ماڼۍ کې د لوړې مراسم تر سره کړل. د ولسمشر غني د لوړې مراسمو ته بهرني ډیپلوماتان او سلګونه عام افغانان ورغلي وو. نوموړي په خپله وینا کې ژمنه وکړه چې د سولې لپاره به هڅه کوي او د ټولو افغانانو له ګډون به یو پیاوړې او شفاف حکومت جوړوي. بلخوا ډاکټر عبدالله عبدالله بیا ځان بریالی اعلان کړ او د لوړې مراسم یې تر سره کړل. عبدالله وویل چې د سیاسي کړکېچ د حل لپاره خبرې غوره لار بولي.

سره له دې چې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې له لسګونو ستونزو ډکې وې، خو په پای کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ولسمشر غني د ټاکنو ګټونکی اعلان کړ او نوموړي ته یې باورلیک ورکړ. بلخوا اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا ادعا کوي چې په رایو کې پراخه درغلي شوې ده او که شفافې رایې حساب شي، نو دی د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو ګټونکی دی. په همدې توګه ټاکل شوې وه چې څو ورځې وړاندې د لوړې مراسم تر سره شي، خو د سولې مسئلې او د امریکا- طالبانو تر منځ د هوکړې لاسلیک مراسم ځنډولي وو. تېره ورځ په ارګ او سپېدار ماڼۍ دواړو کې د لوړې مراسم جوړ شوي وو.

د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله تر منځ د لوړې تر مراسمو مخکې، ډېرې هڅې وشوې چې یو مراسم تر سره شي او د دواړو لورو تر منځ جوړجاړی وشي. خو د ولسمشر غني نږدې کسان وایي چې د ډاکټر عبدالله د ډلې غوښتنې غیر قانوني او د نه منلو وړ وې؛ نو ځکه جوړجاړی رامنځ ته نه شو. له همدې امله د لوړې مراسم د تېرې ورځې تر ماسپښین پورې ځنډول شوي وو، خو بالاخره دواړو لورو تحلیف وکړ.

ولسمشر غني ته قاضی القضات، خو ډاکټر عبدالله عبدالله ته د هغه د ټاکنیزې ډلې یوه غړي مولوي شاهزاده شاهد لوړه ورکړه. ولسمشر غني تر لوړې وروسته په خپله وینا کې وویل چې په افغانستان کې به یو ملي او د ټولو خلکو د منلو وړ حکومت جوړوي. د ده په خبره، په دې حکومت کې به یوازې د دولت جوړوونکي ټیم غړي نه وي؛ بلکې هر افغان به ځان په حکومت کې ویني. د ولسمشر غني د خبرو ډېره برخه د راتلونکي حکومت پر جوړښت او سوله باندې راڅرخېده. ده وویل چې د سولې ملاتړی دی او د راتلونکي حکومت تر ټولو ستره موخه به یې د سولې تامین وي. ولسمشر غني د طالب زندانیانو د خلاصون په اړه هم وویل چې ډاډ رامنځ ته شوی دی او په دې اړه به واضح فرمان صادر کړي. غني وویل: «باید ډاډ رامنځ ته شي چې دا به زموږ د خلکو امنیت ته ګواښ نه جوړوي، بلکې د سولې او امنیت په تامین کې به ګټور تمامېږي.»

بلخوا ملګرو ملتونو او د پاکستان لومړي وزیر په تازه ټویټري پیغامونو کې ولسمشر غني ته د ولسمشر په توګه مبارکي ویلې ده او هیله یې څرګنده کړې چې دی په خپلو چارو کې بریالی وي.

اجرایه رییس هم ځان د ټاکنو ګټونکی بولي او پرون یې دواړه مرستیالان خپلو دفترونو ته لېږلي دي او اجرایه رییس یې هم معرفي کړی دی. هغه د ځان لپاره د لوړې په جوړو کړو مراسمو کې د خبرو پر مهال وویل چې دی د خبرو له لارې د ستونزو د حل پلوی دی. د هغه په خبره، دی اوس هم دې ته تیار دی چې خبرې وکړي، خو په خبره یې، مقابله ډله یې خبرې ردوي.

ده وویل چې ګډ حکومت یې اعلان کړی دی او ټول به پکې شریکان وي. عبدالله عبدالله له نړیوالې ټولنې او نورو مرستندویو ډلو هم مننه وکړه چې د افغانستان د ټاکنو مالي ملاتړ یې کړی دی، خو له دوی یې هیله کړې ده چې له سیاسي کشمکشونو دې لرې اوسي.

# راپورونه: د پاکستان په ګلګېت کې د ترافیکي پېښې له کبله ۵۸ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د دغه هېواد په ګلګېت بالتستان سیمه کې یو مسافر وړونکی بس رود ته لوېدلی او لږ تر لږه ۲۱ کسان پکې وژل شوي او ۲۷ نور ټپیان شوي دي.

پاکستاني چارواکو ویلي چې دغه بس له راولپنډۍ څخه د سکاردو سیمې ته چې د پلازمېنې اسلاماباد په ۲۴۰ کیلومترۍ کې یوه سیاحتي سیمه ده، روان و.

د چارواکو په خبره، د دغې پېښې په قربانیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي. د ګلګېټ سیمه ییز روغتون مسوولینو رویټرز خبري اژانس ته د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې د ډېرو ټپیانو روغتیایي حالت د اندېښنې وړ دی او ښایي د مرګ ژوبلې شمېرې تر دې هم ډېرې شي.

چارواکو ویلي، تر اوسه د دې پېښې علت نه دی په ډاګه شوی او ټول قربانیان او ټپیان د ژغورنکو ډلو له خوا نږدې روغتونونو ته لېږدول شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم په پاکستان کې د ورته ترافیکي پېښو او ټکرونو له کبله سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د پاکستان د بېړنیو پېښو پر وړاندې د مبارزې اداري ویلي، چې روان میلادي کال په دغه هېواد کې ترافیکي پېښې د بل هر وخت په پرتله ډېرې شوې دي. د راپورونو له مخې، په پاکستان کې په ځانګړې ډول په غرنیو سیمو کې دا ډول پېښې عامې دي چې علتونه یې د موټر چلوونکو بې‌احتیاطي، زاړه موټر او د سړکونو خرابوالی ښودل کېږي.


په ورته وخت کې د پاکستان د احصایې چارواکو بیا ویلي، چې هر کال په دغه هېواد کې د موټرو د ټکر یا اوښتو شاوخوا نهو زرو پېښو راپورونه ورکول کېږي چې په منځنۍ ډول پکې تر څلورو زرو کسان وژل کېږي. خو د دې اداري چارواکو ویلي، چې د روان میلادي کال له پیله تر دې دمه د تېر کال د همدومره مودې په پرتله، په دغه ډول پېښو کې نږدې دوه برابره ډېروالی راغلی دی.

## د کتاب خبرې

# د رهبرۍ اخلاق

◉ لیکوال: جان مکسویل
◉ ژباړن: میراحمد یاد

### ۷ میداس لمس به څنګه جوړوو؟




جالبه دا ده چې ژمنې پوره کول د ټولو اړیکو اساس او بنسټ دی او په کاروبار کې د بریا لپاره ډېره اړتیا ورته لیدل کېږي. د CBS ټلویزیون د خرڅلاو د برخې مشر جوزیف ابروزسي وايي:((د سوداګریز وخت په خرڅلاو کې رښتینولي یانې هر څه. ستاسو ۸۰ سلنه کاروبار هر کال له همغو پخوانیو خلکو سره وي، نو خرڅلاو د اړیکو قوي کول دي. په پای کې بیا همغه کس بریالی وي چې رښتینې سودا کوي.)) ۸

په ژمنې پوره کولو کې ستاسو دریځ څه دی؟ که د ژمنې پوره کول اسانه وي، نو تاسو حتما هېڅ ستونزه نه پکې لرئ؛ خو چې سخته وي، نو بیا؟ که د ژمنې پوره کول زیان درته رسوي بیا؟ سر والټر سکاټ همداسې وکړل، تاسو ښایي د همده غوندې وکړئ. سکاټ شاعر، لیکوال، نقاد او مورخ دی. دی د تاریخي ناولونو پلار ګڼل کېږي او امتیاز یې دا دی چې مشهورو ناول لیکوال لکه لوی تولستوی، الکساندر دوما، ویکتور هوګو، بالزاک او نورو ترې اغېزمن دي.

سکاټ په( ۱۷۷۱ز) کې د سکاټلنډ په ایډنبرګ کې زېږېدلی و. له خپل پلار سره تر شاګردۍ وروسته یې د کاري ژوند پیل له وکالته وکړ. وروسته یې په نږدې وخت کې لیکوالۍ ته مخه کړه او ډېر ژر د خپل وخت مشهور ناول لیکوال شو. په( ۱۸۰۸ز) کې د کتابونو د چاپ او نشر په یوه شرکت کې شریک شو. په دې کار یې په نورو خلکو د خپلو کتابونو تر چاپولو ډېره ګټه کوله. په( ۱۸۲٦ز) کې یې د چاپ شرکت هله له مالي پلوه له ستونزو سره مخ شو، چې دی په یوه بل کاروبار کې دیواله شو. پور نږدې( ۱۱۴′۰۰۰ ) یورو و. سکاټ که ځان مفلس اعلان کړی وای، نو د دې پور د ورکړې له مسئولیته یې ځان خلاصولی شوای؛ خو داسې یې ونه کړل، د دې پر ځای یې دا ومنله چې ټول پور به خپله پرې کوي.

سکاټ په راتلونکو شپږو کلو کې د پور پرې کولو لپاره ډېر زیات لیکل وکړل. د چاپ او نشر حقوق یې خرڅ کړل او نور هر څه یې چې له لاسه کېدل، ټول یې وکړل. بلاخره یې تر مرګه( ۷۰′۰۰۰ ) یورو پور خلاص کړ. ځینې خلک وايي چې هغه تر مرګه لیکل کول؛ خو په وصیت کې یې راغلي وو چې څنګه باید نور شیان وپلورل شي او د هغه پور پرې شي. نه یوازې زیان د هغه د ژمنې پوره کولو مخه ونه نیوله، بلکې دا مخه یې مرګ هم ونه نیوله. نن سبا د سکاټ په شان خلک لږ دي. موږ ټول د سمو کارونو پر ځای اسانه کارونو ته ډېر خوشالېږو؛ خو که د سرو زرو ژوند کوو، نو باید د هغه بېلګه تعقیب کړو.

#### د سرو زرو معیار

ستاسو تمرکز اوس پر څه شي دی؟ د سرو زرو ژوند جوړولو هڅه کوئ؟ د کومو فرصتونو په لټه یئ؟ که ترلاسه یې کړئ، څه پایلې به درته ولري؟ شتمني، شهرت، پرمختګ، امتیازات؟ راځئ چې ورته دقیق شو. لاندې ازموینه ورکړئ:

١.	په نړۍ کې د پنځو شتمنو خلکو نومونه ولیکئ؟
٢.	د هیسمین جایزې د پنځو وروستیو ګټونکو نومونه واخلئ؟
٣.	د امریکا د ښکلا د ملکې د سیالیو د پنځو ګټونکو نومونه واخلئ؟
٤.	لس داسې کسان وښیئ چې نوبل جایزه یې ګټلې وي؟
٥.	شپږ داسې فلمي لوبغاړي وښیئ چې د اوسکار جایزه یې ګټلې وي؟

څومره نومونه درته یاد دي؟ نیم؟ دربیمه برخه؟ دې خلکو او لوبډلو چې په نړۍ کې څه ترلاسه کړي، د همغو له امله غوره دي. دوی ثابته کړه چې په خپله برخه کې تکړه دي او ډېر څه یې ترلاسه کړي دي؛ خو دوی څه ډول اغېز کړی دی؟ خصوصا پر تاسو یې څه اغېز لرلای دی؟ که د ډېرو نومونه نه درځي، نو هېڅ اغېز یې نشته.

اوس یوه بله ازموینه ورکړئ:


١.	د خپل ښوونځي داسې درې ښوونکي وښیئ چې تاسو ترې اغېزمن شوي یئ؟
٢. داسې درې ملګري وښیئ چې په سختو حالاتو کې یې مرسته درسره کړې وي؟
٣.	پنځه داسې کسان وښیئ چې ارزښتناک څه یې در زده کړي وي؟
٤.	درې داسې کسان وښیئ چې تاسو ته یې د درناوي او ځانګړتیا احساس درکړی وي؟
٥.	پنځه داسې کسان وښیئ چې وخت تېرول ورسره خوند درکوي؟
٦.	د کیسو شپږ داسې اتلان وښیئ چې تاسو ترې اغېزمن شوي یئ؟۹

زه دا نشم ویلی چې په دې ازموینه کې به مو پوره سل نومرې اخیستې وي؛ خو پر دې باوري یم چې تر تېرې ازموینې به ښه وئ. ولې؟ ځکه چې دا هغه خلک وو چې ستاسو ژوند ته یې ارزښت ورکړی دی. تاسو ته ارزښت درکول دوی ته مهم وو. دوی یوازې په شتمنېدو تمرکز نه دی کړی، بلکې پر نورو خلکو یې تمرکز کړی دی. که داسې څه کول غواړئ چې ستاسو د ژوند تر څنګ د نورو خلکو پر ژوند هم اغېز وکړي، نو له نورو سره ښه وکړئ او تر هغو ډېر ښه ورسره وکړئ چې هغوی یې درسره کوي. لږ ورمخکې شئ، یو میل مخکې لاړ شئ. له داسې خلکو سره مرسته وکړئ چې له تاسو سره مرسته نه شي کولای. په داسې وخت کې ښه وکړئ چې بد پکې طبیعي او عادي وي او خپلې ژمنې پوره کړئ، ان که ستاسو په زیان هم وي.

**دوام لري...**

# خاویر پرز دکوئیر

شفیق امیرزی



خاویر پرز دکوئیر د پیرو هېواد تبعه و. هغه د پیرو ډیپلومات، پیاوړی سفیر، حقوق پوه، د ملګرو ملتونو پنځم سرمنشي او د یو څه مودې لپاره د پیرو لومړی وزیر و. هغه تېره اونۍ د ۱۰۰ کلونو په عمر د پیرو په یوه روغتون کې د جراحۍ پر مهال ومړ. هغه په ډېرو سختو شرایطو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي په توګه دنده تر سره کړه. دا داسې مهال و چې د نړۍ ستر قدرتونه په جګړه کې ښکېل وو او د ملګرو ملتونو دنده وه چې د نړۍ نور خلک له دې جګړو په امن کړي او پیل شوې جګړې پای ته ورسوي. هغه په سختو شرایطو کې سخته دنده په بریا مخ ته یوړه او د ملګرو ملتونو د حیثیت لپاره یې نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې. له افغانستانه د پخواني شوروي اتحاد د سرتېرو په وتلو کې هم د خاویر هڅې د ستایلو وړ دي.

خاویر پرز دکوئیار د پیرو په پلازمېنه لیمه ښار کې په ۱۹۲۰ز کال کې د جنورۍ په ۱۹مه زېږېدلی دی. د ده د کورنۍ اقتصادي وضعیت ښه و، خو ډېر شتمن نه و. کورنۍ یې په اصل کې هسپانوي کډوال وو چې په پیرو کې مېشت شوي وو. دی د پیرو هېواد د کاتلویک کلیسا له پوهنتونه د حقوقو او قوانینو په برخه کې فارغ شو او همدلته یې د ډیپلوماټیکو مسایلو زده کړې او مطالعه هم وکړه. خاویر لا د شلو کلونو و چې د پیرو د بهرنیو چارو په وزارت کې یې دنده پیل کړه.

خاویر د پیرو تکړه سیاستوال او قانون پوه و. د ۱۹۸۲ز کال له جنورۍ د ۱۹۹۱ز کل تر ډسمبر د ملګرو ملتونو عمومي سرمنشي و او په دې توګه دی پنځم کس و چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي شو. له ۲۰۰۰ز کال تر ۲۰۰۱ز کال پورې د پیرو لومړی وزیر شو. په ډېرو هېوادونو کې د پیرو د استازي په توګه په دنده ګومارل شوی دی او په دې برخه کې مهمې لاس ته راوړنې لري. ډېرې نړیوالې او ملي جایزې یې هم ګټلې دي او د ملګرو ملتونو اوسني سرمنشي یې هم د فعالیتونو ستاینه کړې ده. دی د ملګرو ملتونو تر ټولو ډېر ژوندی پاتې شوی پخوانی سرمنشي او دغه راز تر مرګ مخکې د پیرو تر ټولو د ډېر عمر لرونکی ژوندی لومړی وزیر ګڼل کېده، چې حکومت ورته ځانګړی درناوی درلود.

د خاویر ټول عمر په ډیپلوماټیکو فعالیتونو کې تېر شوی دی او په ډېرو هېوادونو کې یې د پیرو د سفیر په توګه دنده تر سره کړې ده. هغه په ۱۹۴۰ز کال کې کله چې پوره ۲۰ کلن و، د پیرو له بهرنیو چارو وزارت سره یو ځای شو. په ۱۹۴۴ز کال کې یې ډیپلوماټیک خدمات پیل کړل. دی په فرانسوي ژبه ښه پوهېده، نو له همدې امله د پیرو د بهرنیو چارو وزارت هغه په فرانسه کې د خپل هېواد د سفیر په توګه وګوماره. همدلته په فرانسه کې پر کار بوخت و چې له یوټېټ رابرتز سره یې واده وکړ. دا یې لومړی واده و، هغه بیا وروسته دویم واده هم وکړ. له دې وروسته په انګلستان کې د پیرو سفیر شو. په برازیر، بولیویا، شوروي اتحاد، سویس، پولنډ او وینزویلا کې یې هم د پیرو د سفیر په توګه دندې تر سره کړې دي. له لومړي واده یې دوه اولاده یوه لور او یو زوی لري چې زوی په فرانسه کې د ماموریت پر مهال وزیږېد او لور یې بیا په لندن کې زیږېدلې ده. خو له دویمې مېرمنې بیا هېڅ اولاد نه لري.

دی د عمومي اسامبلۍ په غونډه کې په ۱۹۴٦ز کال کې د پیرو استازی و. دغه غونډه په لندن کې جوړه شوې وه او خاویر د پیرو استازیتوب کاوه. ده په ټولو ماموریتونو کې د خپل هېواد له حقوقو دفاع کوله او دغه راز یې د نړیوالو مسایلو په اړه د سولې او سلا نظر درلود.

د پیرو هېواد په ۱۹۷۱ز کال کې خاویر په ملګرو ملتونو کې د خپل دایمي استازي په توګه وګوماره. ده تر ۱۹۷۵ز کال پورې بریالی ماموریت درلود او د ملګرو ملتونو په ټولو غونډو کې یې د خپل هېواد په استازیتوب ګډون کاوه. خاوېر له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې هم د خپل هېواد استازی و. د ځینو پېښو تر رامنځ ته کېدو وروسته، د ملګرو ملتونو دفتر دی قبرس ته ولېږه او هلته یې د ځینو مسایلو مسوولیت ور وسپاره. په ۱۹۷۵ز کال کې بیا د ملګرو ملتونو عمومي منشي دی رسماً د خپل استازي په توګه قبرس ته واستاوه. تر هغه یې خپلې دندې ته ادامه ورکړه چې په ۱۹۷۷ز کال کې د خپل هېواد حکومت راوبللو او په بهرنیو چارو وزارت کې یې مسوولیت ور وسپاره. ده په قبرس کې له خپلې دویمې مېرمنې سره واده وکړ چې مخکې مو هم وویل له دې مېرمنې یې اولاد نه درلود.

د خاوېر بریا ورځ په ورځ ډېرېده. تر دې چې په ۱۹۷۹ز کال کې د فبرورۍ په ۲۷مه په رسمي توګه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د سیاسي مرستیال په توګه وګومارل شو. په دې موده کې یې مهم مسوولیتونه په غاړه وو او باید مخ ته یې وړې وای. په نړیواله کچه ډول ډول کشمکشونه رامنځ ته شوي وو. د افغانستان جګړه، د ایران او عراق جګړه، د برېټانیا کشمکشونه او له ځینو هېوادونو سره د امریکا کشمکشونه ټول هغه مسایل وو چې باید خاوېر مدیریت کړي وای. په ۱۹۸۱ز کال کې د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په توګه وګومارل شو. په دې وخت کې په افغانستان کې د روسانو پر ضد خونړۍ جګړه روانه وه او له افغانستانه د روسي ځواکونو د وتلو مراحل وو. د ۱۹۸۱ز کال په اپرېل کې یې د همدې مسایلو په اړه پاکستان او افغانستان ته سفرونه وکړل.

دا مهال د ملګرو ملتونو د هغه وخت د سرمنشي له لوري د دواړو لورو تر منځ خبرې پیل شوې وې او خاوېر باید همدا ماموریت مخ ته وړی وی او په پاکستان او افغانستان کې یې د ښکېلو لورو تر منځ منځګړیتوب او خبرو ته زمینه برابره کړې وای.

خاوېر چې واک ته رسېږي، نو لومړنی کار یې دا دی چې د نړیوالو تر منځ د سولې لپاره فعالیت پیلوي. د ایران او عراق تر منځ جګړه دروي او د سولې لپاره لار هواروي. دی د ایران او عراق تر منځ د خونړۍ جګړې د اوربند رامنځ ته کولو په برخه کې مهم شخصیت و او فعالیت یې د قدر وړ دی. ده وروسته وویل چې پر ایران برید عراق کړی و او د وخت ولسمشر صدام حسین په دې کار کې پړ و، ځکه عسکر یې ان د ایران زړه ته ننوتي وو او جګړې یې کولې. ده د صدام په اړه هم ویلي وو چې د هېچا خبره نه مني، کلک او پر خپل دریځ ولاړ سړی دی. خاویر له دې هر څه سره سره په نړۍ کې د سولې او امنیت سخت پلوی و او د دې لپاره یې کار کولو چې په نړیواله کچه د ملګرو ملتونو له کاره لوېدلې ماشین بېرته فعال کړي او نړیوالو ته د دغه مهم نړیوال بنسټ ارزښت په ډاګه کړي.

دی چې کله د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په توګه ټاکل کېږي، هغه مهال پیرو لږ پېژندل شوی هېواد وي. دی د دې جوګه کېږي چې پیرو ته د خلکو پام ډېر شي او له همدې ځایه خاویر دا هڅه کوي چې د خپل هېواد د نظام په سمون او پیاوړتیا کې ونډه واخلي.

د خاویر د واک پر مهال تر ټولو مهمه ستونزه دا وه چې امریکا د ملګرو ملتونو له سازمان سره اړینه همکاري نه کوله. ان دغه سازمان ته یې د بودجې په ورکړه کې هم ستونزې جوړولې. خاویر ټینګار کاوه چې په نړۍ کې دمګړۍ د سولې خبره هسې هوایي پاتې ده او باید نړیوال عملاً د دې شاهدان وي چې د ملګرو ملتونو سازمان په نړۍ کې سوله تامینولی شي. د سولې لپاره ځکه اړتیا وه چې جګړې خورا شدیدې وې. خاویر به ویل چې نړۍ په پراخه توګه له بې نظمیو، ګډوډیو او ناندریو ډکه شوې ده او دا هر څه د راتلونکو نسلونو لپاره خطرناک دي.

پر لبنان د اسراییلو برید، د عراق او ایران جګړه، د روسیې او امریکا کشمکشونه، په افغانستان کې د شوروي اتحاد نظامي حضور خو خونړۍ جګړه، د کمبودیا جګړې، د امریکا نه همکاري او دغه راز د هغو هېوادونو د همکارۍ کموالی چې ځانونه ورته پیاوړي ښکارېدل، هغه څه وو چې خاویر یې له ډېرو ستونزو سره مخ کړی و. ده په خپله یوه مرکه کې هغه مهال وویل، د ملګرو ملتونو ستره ستونزه دا ده چې غړي هېوادونه یې په خپله په خپل لاس جوړ شوي قوانین او اصول نه مراعاتوي.

کوېلار دوه دورې د ملګرو ملتونو عمومي منشي و. ده ارامه سیاست کاوه، کاریزماتیک ارام او چوپ سیاستوال و. ده به ویل، ستاسې د موزیک او کمپوز ډول اورېدونکی جذبوي، نه ستاسې د سندرغاړي لوړ غږ. په دې مانا چې د خبرې ښه سمه کړه، لوړ غږ ته اړتیا نشته. د هغه شاوخوا کسان وايي چې دی نرم او ارام و، خو هېڅکله بېړه‌ناک او ډارن نه و. دوی وايي، هغه یو زړور او په خپلو پرېکړو ولاړ سړی و او تل یې هڅه کوله چې د نړۍ دغه تر ټولو ستر بنسټ په خورا زړورتیا او قاطعیت مدیریت کړي.

خاویر د بشري حقونو د مسایلو په برخه کې هم له پوره احتیاطه کار اخیست. ده په ښکاره توګه د بشري حقونو د ساتنې لپاره اقدامات کول او په ټولو نړیوالو مسایلو کې یې د بشري حقونو د ساتنې لپاره اړین تدابیر نیول. دی په دې اړه هم اندېښمن و چې جګړې بشري حقونه زیانمنوي او یوازې په سوله کې د بشر حقونه تامیندلی شي. خاویر د لومړۍ دورې تر پای ته رسولو وروسته ناروغ شو، ده غوښتل چې له دې دندې لاس په سر شي، خو د غړو هېوادونو استازو ټینګار وکړ چې باید دی خپلې دندې ته ادامه ورکړي او د دویم ځل لپاره د دغه نړیوال سازمان مشري وکړي. خاویر له فشارونو وروسته له دوی سره ومنله او بیا ځلې یې ځان د ملګرو ملتونو سرمنشیتوب ته نوماند کړ. له همدې سره بریالی شو او بیا یې په یوه بحراني وضعیت کې د ملګرو ملتونو مشري کوله.

د ملګرو ملتونو د نړیوال سازمان عمومي منشي انتونیو ګوتریش د هغه پر مړینه غبرګون ښودلی دی. نوموړي په یوه اوږده اعلامیه کې د ملګرو ملتونو د سازمان په تاریخ کې د خاویر فعالیتونه ستایلي دي او په خبره یې، هغه د دې سازمان د پنځم سرمنشي په توګه نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي او دغه سازمان یې ساتلی دی. ګوتریش وايي، د هغه فعالیتونه د نړۍ په بحراني وضعیت کې مهم وو، ځکه د نړیوالې سولې اقتصادي پرمختګ او بشري حقونو لپاره یې مهم او پاخه ګامونه اوچت کړي دي.

د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان د جوړېدو له پیله تر دې دمه د بشري ژوند د ساتنې او سولې لپاره کار کړی دی. مشران یې تر ډېره هغه کسان وي چې د بشریت لپاره لوړ فکر لري او له تبعیض لرې وي. خاوېر هم همداسې شخصیت و، پیاوړی، ارام، قاطع او پر خپلو چارو پوه ډیپلومات و. ده په خپلو کړنو سره ثابته کړه چې د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان کولی شي په نړۍ کې سوله تامین کړي او جګړې له منځه یوسي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٤۸۹ |
| ₹ | ۱۰۵۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۸,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# مهربانه اوسئ

ژباړه: حمیدالله حمیدي

مهرباني یو له هغو مسایلو ده چې په ټولو مذهبونو کې پرې ټینګار شوی او ارزښت ورکړل شوی دی. خو له دې سره سره، د ټولنې ډېر کم وګړي دې خبرې ته د عمل جامه ور اغوندي. کېدای شي دوی په دې اند وي چې که پر خلکو مهربانه اوسي، کوم څه به له لاسه ورکړي... خو زه په دې اند یم چې په مهربانه اوسېدلو تاسو هېڅ شی هم له لاسه نه ورکوی. هېڅوک د یوه شي د ورکړې او مهربانۍ له کبله نه دي فقیر شوي.

مهرباني یانې په حاصل ورکوونکې ځمکه کې د ګټورو زړو کرل، چې د وخت په تېرېدو سره حاصل او مېوه ورکوي. مهرباني باید د زړه په خوښه او ستاسو د شخصیت یوه برخه وي. مهربانۍ ته باید تاسو له داسې یوې زاویې وګورئ چې په بدل کې یې تاسو د یوه فقیر انسان دعا تر لاسه کوی. ما د ځینو مخکښو کسانو ژوند مطالعه کړی دی. دا چې دوی ټول وخت تر نورو مخکښ دي او د خلکو په زړه او ژبه دي، اصلي لامل یې دا دی چې دوی پر خلکو مهربانه دي او تر خپلې وسې یې ور سره مرسته کړې ده. د بېلګې په توګه، بېل ګټس چې د مایکرو سافټ شرکت مشر او د نړۍ لومړنی شتمن انسان دی. دی او مېرمن یې د ملیندا ګېټس په نوم یوه خیریه موسسه لري. دغه موسسه په ۲۰۰۰ ز کال کې تاسیس شوه او ویل کېږي چې د نړۍ په کچه لومړنۍ، لویه او قوي خیریه موسسه ده. د دې موسسې اصلي موخه د فقر او ناروغیو له منځه وړل او تر خپلې وسې له اړمنو خلکو سره مرسته کول دي. له دې سره سره چې کله بېل ګټس د ۲۰۱۳ ز کال د مې میاشتې په ۱٦مه ۲۸ میلیارده ډالر دې خیریه موسسې ته وقف کړل، اوس هم د نړۍ میلیاردر یادېږي.



پریسلاچان او خاوند یې مارک زاک ربرګ چې د فېسبوک ټولنیزې شبکې مشر او بنسټګر هم دی؛ دوی په ۲۰۱۵ ز کال کې پرېکړه وکړه چې ۱،٦ میلیارده ډالر د خیریه کارونو لپاره ولګوي. خو له دې سره سره مارک زاګر برګ هم د نړۍ د میلیادرانو په لېست کې دی.

الیکا دانګوټ د Dangote Groups شرکت لوی مدیر؛ هغه د افریقا یو شتمن کس دی. نوموړي د Dangote په نوم یوه خیریه موسسه جوړه کړه. دې موسسې په تېرو څلورو کلونو کې په افریقا او نایجیریا کې د ۲۵ میلیونو ډالرو په ارزښت مرستې له بې وزلو، اړمنو او مصیبت ځپلو کسانو سره کړې دي. دغه موسسه په څلورو برخو لکه روغتیا، اقتصادي پراختیا، زده کړو او له اړمنو کسانو سره د مرستې په برخه کې کار کوي. یاد ټول کسان له اړمنو او بې وزلو کسانو سره د خپلې شتمنۍ په بښلو سره مرسته کوي، خو نه یوازې دا چې د دوی په شتمنۍ کې کموالی نه دی راغلی، بلکې ثانیه په ثانیه، دقیقه په دقیقه او ورځ تر بلې د دوی شتمني لا زیاتېږي.

ښه نو، که تاسو هم زما په څېر یو میلیونر نه یاست، څنګه کولای شی له نورو سره مرسته وکړی؟

تاسو کولای شی د خیر او ښېګڼې په کارونو کې د خپل وس مطابق مرسته وکړی، له بې سرپرسته کسانو سره مرسته وکړی، په داوطلبانه کارونو کې برخه واخلی، مصیبت ځپلو کسانو ته له نورو خلکو مرستې را ټولې کړی، له یوه سپین ږیري کس سره مرسته وکړی، د ګڼې ګوڼې له ځای او یا له سړک یې تېر کړی. د ښوونځي له هغو ماشومانو سره مرسته وکړی چې له سړک نه شي اوښتی. بنده په خپل وس نیولی. ډېرې زیاتې لارې شته چې تاسو کولای شی خلکو ته خیر ورسوی. یوازې دومره پکار ده چې خپلې شاوخوا ته وګورئ او فکر وکړئ چې خلک څه شي ته اړتیا لري او ستاسو په وس څه پوره دي.

مهرباني یوازې په پیسو پورې محدوده نه ده. خلکو ته د خدمت، جنس لکه جامې، بوټ، وخت چې لرو یې، موسکا چې کوو یې، په غبږ کې نیول، لارښوونه کول او هر هغه کار چې یو څوک ورته اړتیا لري او زموږ په وس پوره وي، مهرباني او صدقه بلل کېږي. دغه څه یوازې تر پیسو پورې مه محدودوئ. یوازې پیسې کفایت نه کوي. هر څوک کولای شي شتمن شي. خلک ستاسو یوه مهربانه زړه ته اړتیا لري. نو چې داسې ده، هر ځای ته چې تلی، مینه وکرئ او خلکو ته خپله مینه ډالۍ کړئ.

## سولې وزارت: افغان حکومت د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره خپل پلاوی ټاکلی دی

د سولې په چارو کې د دولت وزارت وېلي، د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره پوره چمتووالی لري. دغه وزارت ویلي، افغان حکومت د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره خپل پلاوی ټاکلی دی.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې ناجیې انوري ازادي راډیو ته ویلي، دوی د سولې لپاره پوره چمتووالی لري او هېڅوک هم د دغه بهیر مخه نه شي نیولی.

هغې زیاته کړې: «په پلاوي باندې اخري کار شوی دی او هغه کسان چې باید په پلاوي کې ګډون وکړي، ټاکل شوي دي او موږ پوره چمتووالی لرو، د مذاکراتو پیلېدو لپاره د دواړو لورو نیت او اراده مهمه ده، که مقابل لوری مذاکراتو لپاره چمتو وي او ګډون وکړي، موږ هم اماده یو او هېڅ شی هم د مذاکراتو مخه نه شي نیولی.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحده ایالتونو او طالبانو تر منځ د لاسلیک شوې هوکړې پر بنسټ، بین‌الافغاني خبرې باید د روان میلادي کال د مارچ په ۱۰مه یانې نن پیل شوې وای، خو د حکومتي پلاوي د نه ټاکل کېدو له کبله دغه بهیر تر نامعلومې مودې ځنډېدلی دی.



دا هوکړه چې «افغانستان ته د سولې راوستلو تړون» نوم ورکړل شوی و، د امریکا په استازیتوب د افغان سولې لپاره د هغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشر ملا برادر لهٔخوا تېره شنبه په دوحه کې لاسلیک شوه.

په ورته وخت کې د چارو شنونکي او پوهان له طالبانو سره د خبرو لپاره د افغان حکومت د پلاوي پر ځنډ د نیوکې ترڅنګ وایي، چې دغه چاره به طالبانو ته د دې فرصت ورکړي چې په دغو مذاکراتو کې ځان برلاسی کړي.

د افغانستان د سولې انسټېټیوټ مشر خلیل صافي ویلي چې د افغان حکومت له خوا د مذاکراتي پلاوي په جوړېدو کې ځنډ، د ټاکنو وروستیو پایلو جنجالونه او د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله له خوا د لوړې بېلابېل مراسم به طالبانو ته دا فرصت ورکړي چې ځان راتلونکو مذاکراتو کې برلاسی کړي.

هغه زیاته کړې چې د هېواد د ننه شته کشمکشونه کولای شي د سولې په تړاو راتلونکي بین‌الافغاني مذاکرات وځنډوي.

هغه ویلي: «د بندیانو په خلاصون کې ځنډ د مذاکراتي پلاوي په تړاو اختلاف نظر د ټاکنو پایلو په تړاو رامنځ ته شوی کړکېچ ممکن د بین‌الافغاني خبرو د ځنډ لامل شي. که چېرته اختلاف نظر او د پلاوي په تړاو دغسې کشمکشونه روان وي او مذاکرات څو اړخیز واوسي، نو مذاکراتو کې به طالبان برلاسي شي، دا مذاکرات به د هغوی په ګټه تمام شي.»

د یادونې ده چې تر دې وړاندې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي وو، تر هغې چې د دوی پنځه زره زندانیان خوشې نه شي، بین الافغاني خبرې نه پیلوي.

## عام افغانان: د لوړې مراسمو تر سره کېدل ښایي د سولې بهیر زیانمن کړي

د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله له لوري په یوه ورځ د لوړو مراسمو تر سره کولو خلک د سولې پروسې په اړه اندېښمن کړي او دغه کار له شرمه ډک بولي.

محمد اشرف غني او مرستیالانو یې په ارګ او عبدالله عبدالله په سپېدار ماڼۍ کې د افغانستان د ولسمشر په توګه د لوړې مراسم تر سره کړل.

دا په داسې حال کې ده چې د څه باندې نهو لکو رایو په تر لاسه کولو سره محمد اشرف غني د ټاکنو کمېسیون له لوري بریالی پېژندل شوی دی، خو عبدالله بیا د ټاکنو پر پروسې او ټاکنیزو کمېسیونونو نیوکې لري او وایي چې دغه پروسه په شفافه توګه نه ده تر سره شوې، نو ځکه ځان ولسمشر اعلانوي.

بل لور ته بیا ډېر هېوادوال د غني او عبدالله له لوري د لوړې مراسمو پر تر سره کولو سختې نیوکې کوي.



د ننګرهار اوسېدونکی سلیم جبارخېل ویلي، دا له شرمه ډکه خبره ده چې عبدالله او غني دواړو د لوړې مراسم تر سره کړل.

هغه زیاته کړې: «اول یې باید په خپلو کې دغه مشکل حل کړی وای، بیا یې دغه ډول مراسم تر سره کړي وای.»

دغه راز د کابل ښار اوسېدونکي اجمل حبیبي هم ویلي چې د دواړو مشرانو له لوري د لوړې مراسمو تر سره کول د سولې پر پروسې ناوړه اغېزې کولای شي.

هغه ویلي: «له کلونو وروسته افغانستان ته د سولې لپاره داسې چانس په لاس ورغلی، خو دغه ډول کارونه دغه پروسه له ګنهو ستونزو سره مخ کولای شي.»

دغه راز د هلمند اوسېدونکي نورالله ویلي چې د سولې لاس ته راغلی فرصت باید له لاسه لاړ نه شي، خو د حکومتي مشرانو له لوري د دغه ډول ناسمو کارونو د تر سره کولو له امله به د سولې پروسه له ډېرو ستونزو سره مخ شي.

ډېرو نورو هېوادوالو هم په ټولنیزو رسنیو کې ورته څرګندونې کړې او له غني او عبدالله یې غوښتي چې د څوکۍ پر ځای د سولې پروسې ته لومړیتوب ورکړي.

د یادونې ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ د شوي توافق له مخې، نن باید افغان حکومت له وسله والو طالبانو سره د مذاکراتو پلاوی اعلان کړی وی، خو ولسمشر غني تېره ورځ د لوړې مراسمو له تر سره کولو وروسته وویل چې سبا به یې لومړنی کار د یاد پلاوي اعلانول وي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۳۹۸ د کب ۲۰مه | د ۲۰۲۰ د مارچ لسمه | ۵۲۷مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۲ | ۱۱ | ۱۳ | ۱۹ | ۱۵ |
| ۱ | -۱ | ٤ | ۴ | ۱۱ | ۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۱ | لمر ختل ۰٦:۱٤ | ماسپښین ۱۲:۰۵ | مازیګر ۰۳:۲٤ | ماښام ۰۵:۵۵ | ماخوستن ۰۷:۱۹

## مجاهد: سیاسیون افغان اختلاف نظرهای داخلی را کنار بگذارند و در راستای صلح کار کنند



ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان در واکنش به برگزاری مراسم تحلیف غنی و عبدالله گفته است، به جای برگزاری دو تحلیف، بر مذاکرات بین‌الافغانی متمرکز شوید.

مجاهد اظهار کرده است، برگزاری مذاکرات صلح با دولت افغانستان طی روزهای آتی به دلیل برگزاری مراسم تحلیف دو رقیب جایگاه ریاست جمهوری کشور نامحتمل است. طالبان همچنین از سران حکومت درخواست کرد که بر پایان دادن به جنگ متمرکز باشند.

ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی طالبان در صحبت با رویترز گفته است، فکر نمی‌کنیم آنان بتوانند برای مذاکرات میان افغان‌ها آماده شوند، زیرا اختلاف نظرهایی میان این سیاست‌مداران وجود دارد که حتی به برگزاری دو مراسم تحلیف انجامیده است.

وی افزوده است، از آنان می‌خواهیم بر مذاکرات بین‌الافغانی متمرکز شوند. ما از آنان می‌خواهیم اختلاف نظرهای داخلی را کنار بگذارند و در راستای صلح کار کنند.

این سخنگو در ادامه گفته است، یک مساله دیگر این است که هیچ گام عملی‌ای برای اجرای شرط توافق امریکا و طالبان مبنی بر آزادی پنج هزار زندانی این گروه از سوی دولت افغانستان صورت نگرفته است.

مجاهد گفته است، دیدار مقامات زندان‌های دو طرف روز شنبه و یکشنبه در دوحه صورت گرفت که نخستین ارتباط مقامات دولت افغانستان و طالبان از زمان امضای توافق خروج در ۲۹ فبروری بود.

## نړۍ



راپورونه: د پاکستان په ګلګیت کې د ترافيکي پېښې له کبله ۵۸ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې

۳

## راپورونه: ایران د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه ۷۰ زره بندیان خوشې کړي

ایراني چارواکو ویلي، په دغه هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي په موخه یې شاوخوا ۷۰ زره بندیان خوشې کړي دي.

د ایران د قضایه قوې مشر ابراهیم رییسي د بندیانو له خوشې کېدو وروسته وویل چې دغه کسان به بیا د هېواد ثبات ته ګواښ نه پېښوي.

دا په داسې حال کې ده چې د راپورونو له مخې، په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په دغه هېواد کې د کورونا ویروس له کبله ۴۳ نور کسان هم مړه شوي دي.

رییسي ویلي چې دې ته په کتو چې دغه کسان به د ټولنې امنیت ته ګواښ نه پېښوي، د بندیانو د خوشې کېدو لړۍ ته به دوام ورکړي.

په ورته وخت کې د ایران د روغتیا وزارت ویاند کیانوش جهانپور ویلي چې په ټول هېواد کې د کورونا ویروس ۵۹۵ تازه پېښې ثبت شوې دي. د هغه په خبره، په دې سره پر دې ویروس د اخته کسانو شمېر په ایران کې ۷۱٦۱ ته رسېدلی دی.

د یادونې ده چې په ایران کې د دغه ویروس له کبله تر دې مهاله ۲۳۷ کسان مړه شوي دي.

## راپورونه: یونان له ترکیې څخه د تلونکو کډوالو پر وړاندې خپلې پولې تړي



د راپورونو له مخې، د یونان حکومت غواړي چې د پناه غوښتونکو د مخنیوي لپاره له ترکیې سره پر خپلې پولې نورې موانع هم جوړې کړي. یوناني چارواکي په ترکیې تور پورې کوي چې د پناه غوښتونکو جوپو ته یې لار ورکړې چې یونان ته واوړي. د یونان حکومتي سرچینو ویلي چې دغه موانع به له ترکیې سره د ګډې پولې د جنوب په دریو بېلابېلو سیمو کې سمدلاسه وغځول شي. دا په داسې حال کې ده چې د راپورونو له مخې، پر دې سرحدي سیمه د پناه غوښتونکو ډلې ورماتې شوې چې هڅه کوي ځانونه له ترکیې نورو اروپایي هېوادونو ته ورسوي. د یونان حکومت دغه أعلان وروسته له هغې کوي چې ترکیې د مارچ په اوومه خبرداری ورکړ چې له ترکیې څخه یونان ته او له هغې وروسته نورې اروپا ته د تلونکو پناه غوښتونکو او کډوالو شمېر به په سوریه کې د جګړې له تېزېدو سره ډېر زیات شي. د ترکیې د کورنیو چارو وزیر سلیمان سویلو ویلي: «دا یوازې پیل دی او تاسو به وګورئ چې نور څه پېښېږي، هغه چې تر اوسه شوي، هېڅ هم نه دي.» سویلو ویلي، له ۱۴۳ زرو زیات کډوال له ترکیې یونان ته ننوتي، خو خبریالانو او د کډوالو چارو کتونکو ویلي، داسې ښکاري چې دغه شمېر له مبالغې ډک دی. هغه همدا راز ویلي چې د یونان لومړی وزیر د دې توان نه لري چې خپلې پولې وساتي.

## ژونـــــد


## ژوند توازن ته اړتیا لري





د یو موټر د سویچ بورډ پر سر فرض کړئ چې یوه سکه ده. د دې سکې په یوه خوا د آزادۍ کلمه لیکل شوې او په بله خوا یې د مسوولیت کلمه. زما په اند، د رهبر اوسېدو او ښه ژوند لرلو لپاره باید د دې دواړو کلمو تر منځ توازن موجود وي. ژوند په بشپړ ډول د دې دوو کلمو تر منځ په تعادل کې دی او یو ډېر اساسي او ځانګړی مورد یې د آزادۍ او مسوولیت تر منځ تعادل دی. هو آزاد ژوند وکړه، له هرې شېبې خوند واخله، په ډېره مینه او شوق ژوند وکړه، ښه وخت تېر کړه، په همدې شېبه کې ژوند وکړه، خو مسوولیت منونکی اوسه. خپلې موخې وټاکه، په خپلو ژمنو عمل وکړه، مهم کارونه او خپلې دندې تر سره کړه. د دې په اړه فکر وکړه چې که ستا د مسوولیت کرښه او تمرکز په مرکزي برخه کې وای، نو حالات به څه ډول وو؟ ځکه ډېره پوهه د ښو انتخابونو لامل کېږي او ښه انتخابونه ښې پایلې لري.

## زعفران؛ د نړۍ ګټور او قیمتي ګل



زعفران د دې تر څنګ چې د نړۍ تر ټولو قیمتي ګل دی؛ ډېرې روغتیایي ګټې هم لري. دلته د زعفرانو د ځینو روغتیایي ګټو په اړه خبرې کوو. د زعفرانو په اړه روغتیایي څېړنې وایي، زعفران د اعصابو لپاره فوق العاده ګټور دي. له څښلو سره یې ذهن سکون پیدا کوي. ځینې کسان په ناڅرګندو دلایلو ناارامه او خفه وي، یا د شپې خوب نه ورځي، یا ځینې کسان د ډېر کار له امله د ستړیا احساس کوي چې د ډاکټرانو په خبره، د زعفرانو څښل د دوی لپاره ښه درمل دي؛ ځکه زعفران په طبیعي ډول انسان خوشاله ساتي. د ذهن او اعصابو تر څنګ زعفران هضمي سیستم ته هم خورا ګټور دي. روغتیا پالان باور لري چې زعفران معده ارامه ساتي او که په پرله پسې توګه د چایو په څېر وڅښل شي، نو د وینې کلسټرول له منځه وړلای شي. په هرات کې د زعفرانو چای نوم لري. همدارنګه په هرات او ځینو نورو ولایتونو کې له قابلي پلو او ځینو نورو خوړو سره هم زعفران ګډېږي چې هم د خوړو رنګ او خوند برابروي او هم اشتها زیاتوي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

## ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.



www.azizibank.af
1515